# Syntactical Analysis of Pashto Language

## د پښتو ژبې نحوياتي تجزيه

Khurshid Alam Khan*
M. Anwar Aurakzai*
Musharraf Khan*

## Abstract:

Syntax is the order or arrangement of words and phrases to form proper sentences. The syncytial order of Pashto language is different from other languages through many ways. Linguists follow rules of phonemic arrangements to bring into graphemic orders to from a sentence. Thus, prose is structured on the basis of spoken Pashto. However, a sentence receiving more adverbial objects or compliments shows duality to follow the rules. There arise many complications to deal with to form a meaningful correct sentence which will be syntactically correct. Many writers even don't pay heed to point out such flaws as linguistics strictly follow rules to form language structure. In this paper an analysis of Pashto literature on the basis of syntactical study is elaborated to illustrate the flaws which violate the basic rules between spoken and written Pashto language. The renowned Pashto researchers who contributed in this regard are namely Siddiq Ullah Rishteen, Mujawar Ahmad Ziar, Dr Nasr Ullah Jan Wazir, Dr Bushra Ikram, Dr Daulat Muhammad Luddin and many more. In this paper a thorough light is shed on the syntactical study of Pashto language.

Key words: Syntax, Linguists, Linguistics, Prose, Poetry, Variations

نحو د عربۍ ژبې لفظ دے چې لار يا طريقې ته وائي۔ په ژبپوهنه کښې دا هغه علم دے چې د جملې (غونډلې) جوړښت کښې د اجزاء ترکيبي په اصل ځاے اچولو طريقه کار ښائي۔ د يو متن د مفهوم بنيادي اکائ جمله ګڼلے شي چې د يو بيان متعلق وضاحت کوي۔ د جملې په جوړلو کښې فاعل، مفعول، فعل، متعلقه فعلونه، اضافي فعلونه،ضميرونه او داسې نور اجزاے ترکيبي کردار ادا کوي۔ د

* PhD Scholar Pashto Academy University Of Peshawar
* Lecturer, Government Degree College Badaber Peshawar
* PhD Scholar Pashto Academy University Of Peshawar

پښتو متون شروع د شعر نه شوي ده او په شعر کښې د نحوياتو نه پرته شاعران په خپل ذهانت د لفظونو وړاندې او وروسته کولو سره يو پوره فهم اميز مصرعه او شعر جوړوي۔ د منظوم ادب او منثور ادب فرق په نحوياتو کښې ښه په وضاحت سره کيږي۔ د پښتو منثور ادب په شروع کښې مسجع ګڼلے شو۔ دا ځکه چې په هغې ادب کښې د نحويات تعقيب کول لازمي نه ګڼل کيدو۔ په نورو لفظونو کښې دا هم وئيلے شو چې دې ګرامري اصولو ته پام ګرځول ګران کار وۀ۔ په شلمه پيړۍ کښې سوسيئر دې اړخ ته د لوستونکو پام راوګرځولو۔ د دې نه وړاندې د نحوياتو اصولو سره سم متون تشکيل شوي وو مګر په دې ګرامري اصولو بحثونه نه وو شوې۔ نحويات اوس د ګرامر يو لازمي اړخ ګڼلے شي چې د هرې ژبې جمله بايد د نحوياتو په رڼا کښې وليکلے شي۔

> " نحو Syntax لفظ د يونانۍ ژبې نه راوتے دے او معني ئې ده يو ځاے ترتيبول، منظم ترتيب يا يو ځاے کول۔ دا د جملو د جوړښت مطالعه ده چې لفظونه په يوه 'ژبه کښې په کوم ترتيب کيښودے شي چې جمله ترېنه جوړه شي۔ مونږ د Syntax يا نحو تعريف داسې کولے شو چې لفظونه يعنې اسمونه، فعلونه، صفتونه، ضميرونه او دغسې د وينا نور اجزاء يا لفظونه په داسې ترتيب کيښودل چې يوه جمله يا فقره ترېنه جوړه شي۔ د لفظونو د ترتيب دې مطالعې ته نحو وئيلے شي۔ لنډه دا چې نحو د جملو ګرائمر دے او د جملې د جوړښت سائنس دے۔"[1]

نحو ته پوهاند ډاکټر مجاور احمد زيارپښتو پښويه (ګرامر) کښې پښتو غونډله پوهه (نحو Syntax) ليکلے دے يعني د جملې پوهه معني لري۔ د نحو (غونډله پوهه) په حقله هغه ليکي!

> " لکه څنګه چې د غږ پوهې د سکالو يوون ( د بحث واحد) غږ دے او د ګړپوهې هغه ګړ دے نو د غونډله پوهې د سکالو يوون غونډله ده۔ په بله وينا غونډله پوهه د غونډلو، دغه راز د غونډلو (فقرو) او ګړنو (ايديمونو) جوړښت، اوډون او ډولونه تر کتنې او څېړنې لاندې نيسي۔" [2]

ژبه دراصل د غږونو مارفيمونو په ګرافيمونو يا ساخت کښې تشکيل کول دي۔ په ژبپوهنه کښې د جملې ساخت جوړول د نحوياتو سره په سائنسي بنيادونو جوړيږي۔ دا علم دا ښائي چې په جمله (غونډله) کښې د لفظونو ترتيب د اصل معنو

او مفاهیمو وضاحت کوي۔ د دې لفظونه بې ځایه کېدل نورې معنې ورکولے شي۔ د دې په حقله پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر په خپل کتاب کښې لیکي!

"په ژبه کښې د غږونو نه مارفیم او د مارفیمونو نه لفظونه جوړیږي او هم په دې طریقه د لفظونو نه فقرې او جملې جوړیږي۔ د آواز نه واخله تر جملې پورې دا ټول جزونه په جمله کښې په یو خاص ترتیب کښې ورکولے شي۔ په جمله کښې د لفظونو دا ټول ترتیب د نحو په مطالعه کښې راځي۔ نحو ته انګرېزۍ کښې Syntax وئیلے شي۔"[3]

د نحویات په حقله د اردو یوه وېب پاڼه داسې لیکي!

"، کسی زبان میں الفاظ کی مخصوص اور با معنی ترتیب کو کہتے ہیں۔ زبان میں جملوں کی ساخت اور جملوں میں لفظوں کی ترتیب کے قاعدوں کا مطالعہ نحویات کے ذیل میں آتا ہے۔مثلاً (احمد نے کھانا کھایا) یہ اردو نحو کے اعتبار سے الفاظ کی صحیح ترتیب ہے۔اگر اس کے بدلے یوں کہا جائے کہ(کھانا کھایا احمد نے)تو اس کے معنی کی ترسیل پیچیدگی کا باعث بنے گی،صرف و نحو کو ملاکر زبان کی قواعد کہا جاتا ہے۔"[4]

, نحویات د یوې ژبې د لفظونو درست او معنې ورکونکي ترتیب ته وائي۔ په یوه ژبه کښې د جملو جوړښت او ګرامري اصولو مطالعه په نحویات کښې راځي. د مثال په توګه (احمد ډوډۍ وخوړه) د نحو مطابق دا صحیح ترتیب دے. که دا جمله داسې ولیکلے شي چې (وخوړه ډوډۍ احمد) نو دا ترتیب غلط شو ځکه د دې معنې ورکولو کښې مشکل پېښیږي. صرف و نحو چې یو ځاے شي نو دې ته د ژبې قاعدې وئیلے شي۔"

نحویات په ژبپوهنه کښې د غونډلې (جملې) د وییونو ( لفظونو) یا فریزونو (نیمو جملو) په یو خاص ترکیب کښې په ګرامري اصولو جوړښت کښې ترتیب ته وئیلے شي.که چیرې په جمله کښې د یو لفظ اصل حالت بدل شي نو امکان لري چې د جملې پوره مفهوم او معنې تغیر ولري. د هرې ژبې د جملې د لفظونو خپل بنیادي اصول وي چې د ویونکي وینا نه ئې په ښه توګه د ګرامري اصولو وضاحت کېږي. شاعران دا ترکیب په داسې ذهانت ماتوي چې اصل مفهوم وضاحت ترینه اخذ کېدے شي مګر په نثر کښې د دې ماتول بدل مفهوم راوړي.

" نحو تعلق د جملو د ساخت څخه دے او د جملو د ساخت د طریقو په اساس ژبې یو تر بله سره جلا کېږي. په تېرو بحثونو کښې مونږ دا ښودلي دي چې د ژبې اکای جمله ده. په هره ژبه کښې د ټکیو په نخښلولو سره د مطلب رایستلو طریقه ځانګړې وي. ژبپوهانو د نحوي ارتقا مداراج د کوشنیانو په ژبه قابو موندلو طریقې له ارتقا سره مشابه ښودلي دي. په دې لړ کښې تر ټولو غوره دا خبره یاد ساتل په کار دي چې کوشنے په ژبه د قابو موندلو په دې ټوله مرحله کښې چې څه هم سوچ کوي، هغه په جملو کښې وي نه چې ځانګړو ټکیو کښې. دغه حال به د ابتدائ انسان هم وۀ. د کله نه چې انسان مزکې ته راکوز شوے او د سوچ و فکر جوګه شوے، هغه به په جملو کښې سوچ و فکر کړے وي."[5]

نحویات په ژبپوهنه کښې یو پرمختللې موضوع ده چې په ژبه کښې خپل بنیادي اصول او قسمونه لري. د نحو په حقله د انګرېزۍ یوه وېب پاڼه په لاندې ډول لیکي!

"In linguistics, syntax (The word originates from the Greek words συν (syn), meaning "co-" or "together," and τάξις (táxis), meaning "sequence, order, or arrangement.") is the study of the rules, or "patterned relations," that govern the way words combine to form phrases and phrases combine to form sentences."[6]

"په ژبپوهنه کښې نحو ( دا لفظ د یوناني ژبې سین (Syn) یعني معاون او ټېکسس (taxis) یعني ترتیب، تنظیم یا ترکیب) مطلب ورکوي او دا هغه مطالعه ده چې هغه اصول ټاکي چې لفظونو نه فریزز جوړېږي او فریزز یو ځاے کېدو نه جمله (غونډله) جوړولو اصول جوړوي."

د پښتو نحویات تر اوسه پورې په پوره ډول واضح نه دي. دا ځکه چې لکه د انګریزۍ ژبې د جملې په جوړښت کښې په جمله کښې ړومبے فاعل، بیا فعل او بیا مفعول وي، تر دې حد پورې خو د پښتو ژبې د جملو اجزاو وضاحت کېږي. لکه د مثال په توګه " احمد کار وکړو. ړومبے فاعل بیا مفعول او اخر کښې فعل دے چې د انګریزۍ ژبې سره توپیر لري خو د جملې جوړښت واضح دے. د انګریزۍ ژبې د جملې نورو اجزاو ترکیب هم واضح دے مګر د پښتو په جمله یا غونډله کښې د وخت او ځاے اضافي کړونو ترتیب وضاحت نشته. دلته د سوسیئر

د تقریر خبره لازمي راوړل غواړي چې باید دا جملې څنګه ولیکلے شي۔ د یوې جملې مختلف مثالونه په لاندې ډول دي۔

"جبار د جمعې په ورځ ښېر بجې کورته راورسېدو۔"
"جبار کورته د جمعې په ورځ ښېر بجې راورسېدو۔"
"جبار کورته ښېر بجې د جمعې په ورځ راورسیېدو۔"
"جبار ښېر بجې د جمعې په ورځ کور ته راورسېدو۔"

په دې ورکړي شوي جملو کښې څلوره واړه یو شان اجزاء لري۔ په دې جملو کښې ټولې د مفهوم وضاحت کوي۔ په دې جملو کښې متعلق فعل د ځاے او وخت په اصل ځاے کښې اچول ستونزه راپورته کوي۔ د دې په حقله پښتو ژبه کښې کوم ټاکلي قاعدې او اصول نه شته چې د ځاے، وخت او نورو متعلقه فعلونو او اسمونو جوړښت څنګه او کوم ځاے کښې په کار دي۔ د پښتو نحویاتي قاعدو تشکیل داسې پکار دي چې د فونیمي یا تقریري غږونو جوړښت سره سم وي۔ دا جوړښت به نثر اصل ساخت معرفي کړي۔ د پښتو نحویاتي تشکیل به لازمي سائنسي جوړښت لري چې د ویونکو غږونو او د لوستونکو په حس برابر وي۔
پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار غونډله د مفهوم ابتدائ نکته ګڼي۔ هغه د نحو علم د پښتو ژبې قاعدو په حقله په مثالونو سره وضاحتونه کړي دي۔ د یوې ساده جملې په حقله د هغه ټاکلي اصول درست دي مګر د لویو جملو په حقله نحویاتي اصول ټاکل لا تراوسه پورې مشکل ښکاري۔ د ساده جملې په حقله پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار مثالونه په لاندې ډول دي۔

"ځلمے راغے
د ځلمي وړور راغے
د ځلمي مشر وړور راغے۔
د ځلمي یو وړور نن له کندهار څخه کابل ته راغے۔"[7]

په دې ورکړي شویو جملو کښې پوهاند مجاور احمد زیار دا ښودلي دي چې که چیرې یو فاعل او فعل وي نو ړومبۍ جمله سمه ده۔ که چیرې یو فاعل، فعل سره یو بل اسم راشي نو جمله به داسې وړاندې په دې ورکړي شوي ترتیب سره روانه ساتل وي۔ دغه شان په جمله کښې که متعلقه فعل د اسم او فعل راځي نو د ورکړي شوي مثالونو تعقیب دې وشي۔ که دا ورکړے شوے نحوي ګرامر

تعقیب کول لازمي وي نو بیا که دې ورکړي شوي جملو کښې اخري جمله داسې ولیکلے شي چې د "ځلمي یو ورور نن د کابل ته د کندهار څخه راغے" دې ځاے کښې په جمله کښې تفاوت او توپیر ښکاري مګر د پښتو اکثر لیکوالان دې اړخ ته پام نه کوي او لیک کوي۔ داسې تېروتنې د هر یو لیکوال په لیک کښې په نظر راځي مګر لوستونکي هم ورته پام نه کوي چې د تشویش وړ خبره ده۔ دا ځکه چې د نړۍ نورو ژبو کښې اکثر د دې دپاره ټاکلي نحویاتي اصول وضح شوي دي۔

پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار جملې ته غونډله یا فقره نوم کارولے دے او نحو ته غونډله پوهه وائي یعني نحو هغه علم دے چې په هغې کښې د فقرې یا غونډلې په حقله مطالعه کېږي۔ هغه د فقرې دپاره جمله نوم هم کارولے دے مګر د پښتو خپل نوم ئې غونډله کارولے دے۔ د غونډله جوړښت په حقله هغه لیکي!

> " غونډله د کړونو او وییونو یو داسې اوډلي غونډ (کل) دے چې یو بشپړ جاج (مفهوم) او موحه مطلب ترې پوهول کېږي۔ له بله پلوه دا چې خبرې یا وینا په غونډلو کېږي او بې غونډلو خبرې او وینا نه تر سره کېږي۔ نو داسې ئې هم پېژندلے شو۔ غونډله د خبرو، وینا یا کړهار هغه بشپړه خپلواکه ناشنوني رغاونه ده چې ترې بله ستره رغاونه نشته۔ په بله وینا غونډله د خبرو او ویناوو تر ټولو لوے یوون (واحد) دے۔"[8]

د نحویات په حقله فضل میر خټک لیکي!

> "د نحو لغوي معني ده، لار، طریقه، علم. د یو شي داسې پېژندل چې څنګه یې د پېژندلو حق وي. په اصطلاح کښې هغه علم چې د کلام اجزاو صحیح ترتیب ورکولو او یا د جدا کولو طریقې ښائي او د کلماتو په مینځ کښې تعلق پرې معلومولے شي او د کومې غلطۍ په وجه چې په مطلب ښکاره کولو کښې خلل یا نقص یا کمے پیدا کېږي، دا په ګوته کړي."[9]

نحو د لفظ ترتیب او د ګرامر اصولو په موضوعاتو بحث کوي لکه فاعل، فعل (کړ) ته ترتیب ورکول یا د مفعول بلاواسطه یا بالواسطه په جمله کښې صحیح اچول دي۔ نحو د زیاتو لفظونو په یوه جمله کښې د صحیح ترتیب جوړولو لازمي پوهې ته وئیلے شي۔ دا یو قسم په د جملې ساخت جوړولو کښې د لفظونو مناسب او موزون ځاے کښې د لفظونو اصل حالت معلومولو ټاکنه کوي۔ په جمله کښې یو لفظ یا فریز بې ځایه اچول د لفظونو اصل ځاے بې ځایه کول دي۔ په جمله کښې د وینا په بنیاد د لفظونو یا فریزونو خپل ټاکلي ځایونه وي چې په صوتیاتي حواله ئې ښه پېژندګلو کېږي۔ د یو لفظ اصل ځاے نه بې ځایه کول د جملې مفهوم بدلوي۔

په ځینې جملو کښې د لفظونو بې ځایه کول لږ توپیر راوړي مګر په ځینې جملو کښې ډېر توپیر راوړي او پوره معنې بدلوي یا پوره تشریح بدلوي۔ د لفظونو بدلون سره مفهموم او معنې څنګه بدلیږي، د دې په حقله مثالونه په جملو کښې راوړي۔
صرف جان د جرم خلاف مبارزه کوي۔
د دې جملې معنې دا ده چې صرف جان هغه کس دے چې د جرم خلاف مبارزه کوي۔ د هغه نه سیوا بل څوک داسې نشته چې د جرم خلاف مبارزه وکړي۔
جان صرف د جرم خلاف مبارزه کوي۔
د دې جملې تشریح دا کیدے شي چې د جان کار دا دے چې هغه صرف د جرم خلاف مبارزه وکړي۔ د هغه بل کار نشته۔
د جرم خلاف مبارزه صرف جان کوي۔
د دې جملې نه دا هم دا مقصد دے چې د جرم خلاف صرف جان لګیا دے مبارزه کوي مګر د جملې ساخت په ترتیب او ترکیب کښې فرق دے۔ دلته دا معلوموول دي چې دا ساخت د روزمره په رڼا کښې په ګرامري اصولو ویونکي څنګه کاروي۔
په جمله کښې د فاعل، فعل (کړ)، مفعول، ضمیر (نومځرے) اسم صفت او داسې نورو لفظونو او فریزونو ته په خپل اصل ځایونو کښې ترتیب ورکول د نحو مطالعه ده۔
د پښتو ژبې لنډه جمله فاعل او فعل سره تر سره کیږي چې لفظونو ترتیب ئې په لاندې ډول کیدے شي۔
مثال لاړو
داسې جملې په نورو ژبو کښې هم دغه شان یو ترتیب لري مګر هغه جملو جوړښت کښې دقت په نظر راځي کله چې د فاعل، فعل سره مفعول او نور اضافي لفظونه راشي۔
د هرې ژبې نحویاتي ترتیب او ترکیب جدا وي۔ دا ترتیب په ځینې ژبو کښې یو شان کیدے شي مګر د یوې ژبې هم د بلې ژبې سره پوره یو شان نه شي کیدے۔ کومې ژبې چې مشترکات لري او یا د لیک په لحاظ څه بنیادي څیزونه مشترک لري، د هغې ژبو نحویات څه لږ ډېر مشترک کیدے شي۔ د پښتو ژبې د جملو ترکیب په لاندې ډول دے۔
فاعل + مفعول + فعل
مثال کار کوي
د پښتو غږیز (صوتیاتي یا فونیمي) نظام تر مخه دا جمله سمه ده۔ که هم دا جمله په لاندې ډول ولیکلے شي نو دا به سمه نه وي۔

مشال کوي کار او یا داسې
کار مشال کوي۔
دې اخري جمله کښې د جملې په معنې او مفهوم کښې شدت راځي چې مطلب ترینه دا اخیستلے کېږي چې صرف مشال هغه کس دے چې کار کوي۔ په ړومبۍ جمله کښې ساده ترتیب کښې د پښتو روزمره سره سم د جمې نحویاتي جوړښت دے چې پوره اصل مفهوم ورکوي او په دې جمله کښې د لفظونو ترتیب سم او د پښتو ګرامر اصولو مطابق دے۔ د دې برعکس په نورو ژبو کښې دا ترتیب بدل کېدے شي۔
په لاندې جملو کښې د ځاے او وخت اضافي لفظونو سره د ساخت ترتیب کښې دقت په نظر راځي او اکثر لیکوالان دې اړخ ته زیات پام نه کوي چې په متن کښې ترینه تېروتنې کېږي۔ د مثال په توګه لاندې جملې وګورئ۔

لیلٰی د کور نه پوهنتون ته راځي۔
لیلٰی سحر د کور نه پوهنتونه ته راځي
لیلٰی سحر اته بجې د کور نه پوهنتون ته راځي
هم دا جملې که په لاندې ډول ولیکلے شي نو بیا هم ترینه هم دغه مفهوم اخیستلے شي۔
لیلٰی پوهنتون ته د کور نه راځي
لیلٰی پوهنتون ته د کور نه سحر راځي۔
لیلٰی پوهنتون ته اته بجې سحر د کور نه راځي۔
په دې جملو کښې د لفظونو ترتیب بدلیدو سره که مفهموم یو وي خو د جملې اصل ساخت ته نقصان رسي۔ دا عمل د نحویاتو ترتیب سره په ضد دے او په ګرامري حواله سم نه دے۔ د مثبت جملو، نفي جملو او سوالیه جملو جوړښت کښې فرق وي۔ پښتو کښې د سوالیه جملو دپاره "ایا" لفظو کارولے شي چې د جملې په سر کښې راځي۔ د نفي لفظ اصل ځاے د فعل نه وړاندې متعین دے۔ لکه "مشال کار نه کوي"۔ دا جمله سوالیه داسې لیکلے شي۔ "ایا مشال کار کوي؟۔ مشال ایا کار کوي؟ دا ترتیب غلط دے ځکه چې په نحویاتي حواله دا جوړښت سم نه دے۔
نحویات د غړونو تقریري ډول په ساخت کښې راوستل دي چې په یوه خاص طریقه او لاره کېږي۔ دا ګرامري ساخت جوړېږي چې د پښتو ژبې دپاره په کښې زیات کار کول پاتې دي۔ د غړیز نظام په حقله ډاکټر دولت محمد لودین لیکي!

" د ساسيور په نظريه ژبه له وينا څخه په دې جلا کېږي چې ژبه ټولنيزه ده او وينا شخصي او فردي ده، ژبه د وينايز ګډون په مقصد د ټولنې له ټولو غړو پورې مربوطه ده د ټولنيز محصول غونډې ده چې هر فرد ته په تياره جوړه شوې بڼه ورکول کېږي. وينا د تل لپاره فردي ده او د وينا هر يو عمل شخصي بڼه لري. د وينا هر عمل شخصي مؤلف لري چې په خپله خوښه ئې له خپل ذوق سره برابره جوړوي."[10]

دا دې ياده وي چې نحويات او طرز تحرير جدا څېزونه دي. طرز بيان (Diction) د يو ليکوال د تحرير انداز دے چې په يو ليک کښې ښکاره کېږي. طرز بيان داسې وي لکه دا کور صفا دے يا هم دغه جمله که داسې وليکلے شي چې دا ښکلے او پاک کور دے. طرز بيان دراصل لفظونو چاڼ دے چې يو ليکوال غواړي کوم لفظونه په جملې کښې وکاروي چې جمله اثرناکه شي مګر د دې برعکس نحويات په جمله کښې د لفظونو په خپل اصل ځاے کښې ځايول دي. د نحوياتو په پېژندګلو دې لاندې جملو نه کېږي.

دا کار اکرم اوکړو.

اکرم دا کار اوکړو.

د نحو په حقله ډاکټر دولت محمد لودين په لاندې ډول ليک کوي.

"دا د لغاتو هغه معناګانې دي، چې په ټاکلې قرينه کښې ئې لري. (١٣) په دې برخه کښې هغه لغات چې لفظي تجانس لري راوړے شو، لکه: لور (طرف)، لور (داس) که اووئيل شي: رېدے په کوم لور ولاړ؟ دلته خرګنده خبره دا ده چې له مخې د (طرف) معنا لري، که اووئيل شي:
د لوګرې چې لو د لاسه نه کېږي لور په لوټه تېره کوي؛ په دغه مثال کښې د قرينې له مخې د (لور) معنا (داسې) ده، هم دا سبب دے چې دغه ډول معناګانو ته نحوي شرطي معناګانې وئيل کېږي."[11]

په ژبپوهنه کښې نحويات د لفظونو ترتيب يا ترکيب دے چې د يو ليکوال ګرامري اصولو وضاحت هم کوي. دا خبره چې نحويات څنګه کارول کړي. د دې په حقله وئيلے شي چې نحويات دپاره په اکثرو ژبو کښې جوړ شوې اصول دي مګر بيا هم يو ليکوال ازاد وي چې خپل جدا او منفرد انداز خپل کړي چې ګرامر ته زيان نه رسوي. په دې زمره کښې هغه ليکوالان راځي چې ځينې حکايتونه، متلونه يا ضرب الامثال راوړي.

نحویات د یوې ژبې دپاره لازمي ګڼل کیږي. پښتو ادب کښې په ژبپوهنه علم کښې کم کار شوے دے او دا بحث وړاندې وړل د وخت ضرورت دے چې جملې ساخت د نحویاتو په رڼا کښې مرتب شي.

---

[1] Wazir, Nasrullah Jan, Doctor, Professor, Xhabpohana, Pashto Academy Peshawar University, 2018, P# 214-215

[2] Ziyar, Majawar Ahmad, Pohand, Dr, Pakhto Pakhuya, (Grammar) Danish Khparanduya Tolana Pekhawar, 2003, P # 141

[3] Wazir, Nasrullah Jan, Doctor, Professor, Xhabpohana, Pashto Academy Peshawar University, 2018, P# 214

[4] http://www.urdulinks.com/urj/?p=1579, accessed on December 8, 2022

[5] Sarwi, Abdul Qadir, Xhaba ao Xhabpohana (Translated by: Professor Doctor Nasrullah Jan Waziri), Pashto Academy Peshawar University, 2018, P# 109

[6] https://www.newworldencyclopedia.org/entry/syntax, accessed on December 7, 2022

[7] Ziyar, Majawar Ahmad, Pohand, Dr, Pakhto Pakhuya, (Grammar) Danish Khparanduya Tolana Pekhawar, 2003, P #142

[8] Ziyar, Majawar Ahmad, Pohand, Dr, Pakhto Pakhuya, (Grammar) Danish Khparanduya Tolana Pekhawar, 2003, P # 141

[9] Khatak, Fazal Mir, Fazliyat, Hayat Book Depot, Main Bazar Karak, Khyber Pakhtunkhwa, 1999, page# 430

[10] Luddin, Dawlat Muhammad, Doctor, Xhaba ao Tolana, Khateez Khparandoya Tolana Jalalkot, 1395 Lamreez, P# 41

[11] Luddin, Dawlat Muhammad, Doctor, Da Umumi Xhabpohany Masail, Khateez Khparandoya Tolana Jalalkot, 1395 Lamreez, P 55